2 017550 139621

# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د مارچ شپږمه | دویم کال| ۳٤٦مه گڼه

## ترروسيې او ازبکستان وروسته؛
# د افغان سولې په اړه د امريکا د بهرنيو چارو وزير هم دوحې ته ځي



۳

### څه شي د قطر خبرې پېچلې کړې دي؟
۲ مخ

### پر امريکا باور مه کړئ، متقابل تضمين ترې واخلئ!
۲ مخ

### دغه اووه کړنې د دې لامل کېږي چې نور خلک درته احترام وکړي
۵ مخ

## برحاله وکيلان: ولسمشر دې قانون ماتونه پرېږدي، پارلمان دې افتتاح کړي

د اساسي قانون له مخې، له ژمنيو رخصتيو وروسته د ملي شورا نوې دوره بايد د حوت پر ۱۵مه د ولسمشر له خوا پرانيستل شي، خو حکومت غواړي د نويو وکيلانو په حضور کې نوی پارلمان پرانيزي.

د ولسي جرگې برحاله وکيلان وايي، چې تېرې ټاکنې له درغليو ډکې وې، لا هم د رايو برخليک نه دی روښانه، وروستۍ پايلې نه دي اعلان شوې، نو حکومت ته پکار ده، چې ولسمشر غني نور د قانون خلاف اقدامات پای ته ورسوي او د اوسنيو برحاله وکيلانو په حضور کې ملي شورا پرانيزي.

د ولسي جرگې غړي داوود کلکانی په دې اړه ويلي: «د اساسي قانون له مخې ولسمشر بايد د افغانستان پارلمان پرانيزي، که داسې نه کېږي، نو پخواني وکيلان چې د ولس استازيتوب کوي، طبعاً خپلو دندو ته به دوام ورکوي».

په ورته وخت کې ځينو سرچينو ويلي چې د ولسي جرگې د دارالانشا له خوا ارگ ته په يوه استول شوي مکتوب کې تر ژمنيو رخصتيو وروسته، د پارلمان د افتتاح غوښتنه شوې، خو دا غوښتنه د ولسمشر له لوري رد شوې ده.

د ملي شورا غړي بيا وايي چې د ولسي جرگې اوسني غړي قانوني صلاحيت لري او د نوي پارلمان تر راتگ پورې به خپلو دندو ته ادامه ورکوي.

په ورته وخت کې د حقوقي چارو شنونکي وايي، چې په انتخاباتي او پارلماني چارو کې د حکومت پرله پسې مداخلې، په لوی لاس د دغو نهادونو د بې اعتباره کېدو لپاره هڅې دي.


## په قطر کې د بندو دروازو تر شا رواني خبرې د اندېښنې وړ دي



۳ مخ

## کتاب
۴ مخ

### ټول خلک سره ورونه دي




د هندوستان په ډيلي ښار کې دگاندي په نامه يو ځانگړی موزيم شته، چې د هغه د ژوند ټول حالات پکې انځور شوي او همدا راز د هند خلک دگاندي د زيږېدنې پر ورځ چې د اکتوبر دويمه ده، رسمي رخصتي کوي.

## اروزگان کې د پستې او بادامو ۳٦۷ جريبه بڼونه جوړېږي



د اروزگان د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رياست د بديل معيشت پروگرام د برنامې پر اساس، په دغه ولايت کې د پستې او بادامو د ۳٦۷ جريبه نويو بڼونو د جوړولو لړۍ رسماً پيل کړې ده. په دې لړۍ کې د دغه ولايت په مرکز ترينکوټ او چورې ولسوالۍ کې ۱۰۰ جريبه د پستې بڼونه او ۲٦۷ جريبه د بادامو نوي بڼونه جوړېږي.

د ياد رياست په خبره، د دغو بڼونو د جوړولو په پار، پر ۲۷۸ بڼوالو د پستې او بادامو نيالگي هم وېشل شوي دي.

د يادونې ده چې سږ کال د افغانستان د وچې مېوې له ډلې، پستې تر بلې هرې مېوې زيات د بهرنيو پېرېدونکو پام ځانته اړولی و.

د اروزگان د کرنې رياست هلې ځلې کوي چې د پستې، بادامو او نورو مېوه لرونکو بڼونو په ترويج سره، د کوکنارو د کرکېلې مخه ډب او بزگرانو او بڼوالو ته ښه عايد لرونکې مېوې وروپېژني.

## هیأت اداری جدید کمیسیون های انتخاباتی تعیین شدند و امروز رسماً کارش اغاز می کند



انتخابات هیأت اداری کمیسیون های انتخاباتی؛ با انتخاب رئیس، معاون و منشی هر دو کمیسیون به پایان رسید و سر از امروز رسماً به کار آغاز می‌نمایند.

میرزا محمد حقپرست معاون سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات گفت، در انتخاباتی که دیروز میان اعضای این کمیسیون در دفتر کمیسیون مستقل انتخابات در کابل برگزار گردید، حوا علم نورستانی به حیث رئیس، عصمت الله مل معاون و مسافر قوقندی به حیث منشی و سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات، برگزیده شدند.

همچنان بر اساس معلومات یک منبع دیگر؛ زهره بیان شینواری به حیث رئیس، مولوی دین محمد عظیمی معاون و محمدقاسم الیاسی به حیث منشی و سخنگوی کمیسیون شکایات انتخاباتی برگزیده شدند.

به دنبال تعدیل قانون انتخابات و عزل کمیشنران کمیسیون های انتخاباتی، روز جمعه ۱۷ تن از نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، به پای صندوق‌های رای رفتند و از میان ۸۱ نامزد، چهارده تن را برای عضویت کمیسیون های انتخاباتی و رؤسای دارالانشای آنها انتخاب نمودند.

در پی آن، رئیس‌جمهور محمد اشرف غنی، طی فرامینی، سید عصمت الله مل، مولانا محمد عبدالله، اورنگزیب، محمدحنیف دانشیار، مسافر قوقندی، حوا علم نورستانی و رحیمه ظریفی را به حیث اعضای کمیسیون مستقل انتخابات و محمد قاسم الیاسی، زهره بیان شینواری، مولوی دین محمد عظیمی، محمدیونس طغرا و سید قطب الدین رویدار را به حیث اعضای کمیسیون شکایات انتخاباتی برگزید.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life



دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریــغ

### څه شي د قطر خبرې پېچلې کړې دي؟

په قطر کې د طالبانو او امریکايي استازو ترمنځ له شپږ ورځو خبرو وروسته هم د دغو خبرو د پرمختګونو او ستونزو په اړه رسمي معلومات نشته. دواړو لورو په تېرو ورځو کې یوازې دومره ویلي چې خبرې ښې روانې دي او دوی ورته هیله من دي. طالبانو او امریکا بیا بیا ویلي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د چا پر ضد د افغان خاورې پر نه استعمال خبرې روانې دي، خو دا چې په دې برخه کې پرمختګونه او خنډونه څه دي، یو لوری هم معلومات نه ورکوي.

داسې ښکاري چې دا خبرې له پرمختګونو سره سره له لویو خنډونو سره هم مخ دي او له همدې امله خبرې اوږدې شوې دي او تر اوسه یې هم پایله نه ښکاري. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم ویلي چې په راتلونکو دوو اونیو کې قطر ته ورځي او هلته له خپلو استازو سره د سولې د خبرو په پرمختګ کې مرسته کوي. تر دې وړاندې د روسیې او ازبکستان د بهرنیو چارو وزیران هم قطر ته ورغلي وو. مایک پامپیو ویلي، امریکا په افغانستان کې داسې جوړجاړي ته د رسېدو هڅه کوي چې د ټولو افغانانو حقونه پکې خوندي شي. نوموړي ویلي، د افغانستان لانجه پېچلې ده او که سیمه ییز لوبغاړي، پاکستان، هند، چین او روسیه هم چې هر یو یې ځانته ګټې لري، پکې ورګډ شي، هغه لا پېچلې کېږي او د هوارې لپاره یې خبرې اترې هم ستونزمنې کېږي.

څه چې په دغو خبرو کې روښانه دي او د مایک پامپیو په خبرو کې یې هم څرک لیدل کېږي، هغه دا دي چې طالبان له امریکا سره په خبرو کې یوازې نه دي. څه چې طالبان یې وایي، سیمه ییز ملاتړ هم لري او هغه څه دي چې د طالبانو د غوښتنې تر څنګ د سیمې غوښتنې هم پکې ځایېږي. که څه هم ویل شوي چې د ځواکونو پر وتلو توافق شوی او په دې برخه کې ستونزه نشته، خو لا هم امریکا غواړي چې په افغانستان کې د پاتې کېدو لپاره لارې چارې ولټوي. دا هغه څه دي چې طالبان یې نه مني او له همدې امله خبرې اوږدې شوې دي. د سیمې د هېوادونو دریځ له طالبانو سره مرسته کوي چې پر خپله خبره ودرېږي او دې چارې بیا امریکا ته ستونزې پیدا کړې چې پر طالبانو خپلې خبرې ومني.

امریکا له طالبانو سره د خبرو له پیل وړاندې فکر کاوه چې خپلې اساسي غوښتنې پر طالبانو منلی شي، خو اوس داسې ښکاري چې دوی په دې چاره کې له خنډ سره مخ دي. د امریکا لپاره په افغانستان کې د نظامي ځواک ساتل اساسي خبره ده، خو طالبان بیا دا د ځان لپاره سره کرښه ګڼي او دا هغه څه دي چې سیمه ییز هېوادونه هم پرې له طالبانو سره یوه خوله دي. امریکا که د مخامخ نظامي ځواک غوښتنه نه کوي، خو د امریکا پر ضد د افغان خاورې د نه استعمال په بحث کې دا غوښتنه کوي. اوس داسې ښکاري چې همدې چارې خبرې له خنډ سره مخ کړې دي او په راتلونکو څو ورځو کې به معلومه شي چې امریکا کومه بله لاره مني او که د خپلو غوښتنو پر منلو ټینګار کوي.

# پر امریکا باور مه کړئ، متقابل تضمین ترې واخلئ!

ليکنه: قاضي نجيب الله جامع

د قطر پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د پنځم پړاو خبرو موده تر هغه زیاته وغځېده، چې مخکې یې وړاندوینه کېده.

ممکن دا خبرې اترې د روانې اونۍ تر پایه هم وغځېږي، ځکه اوس بحث له کلیاتو جزییات ته شوی دی او پر جزییاتو بحث معمولاً وخت نیوونکی وي.

د طالبانو او امریکايي لوري ترمنځ د روانو خبرو پراخ رسنیز انعکاس، په کور دننه او بهر کې د ممکن جوړجاړي په باب، چې کومې اندېښنې ښودل کېږي، دا چې هغه څومره طبیعي او رښتینې او څومره مصنوعي او مغرضانه دي؟ دا یوې خوا ته ولې بل لور ته په تازه څرګندونو کې د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن هغه څرګندونې چې وایي، له تروریزم سره د مبارزې لپاره به امریکايي پوځیان په افغانستان کې پاتې شي، ځکه د نوموړي په باور، دوی پر طالبانو باور نه لري او په عیني وخت کې یې له طالبانو له افغان خاورې امریکا او له امریکايي ګټو څخه د ساتنې د تضمین خبره هم خوراه ګرمه ساتلې. هغه چاره چې د امریکايي ډیپلوماسۍ تاریخ او د ګټو پر محور بدلېدونکو رابدلېدونکو سیاستونو ته په کتو، نړۍ ترې ښې خاطرې نه لري.

د امریکا له افغانستان څخه د نه ګواښ تضمین غوښتنه، په حقیقت کې په راتلونکي کې د ټولو هوکړو او له ژمنو څخه د تېښتې یوه لاره پرېښودل او یو ډول د بیا یرغل سیاسي او حقوقي ترفند کارولو په مانا دی.

له طالبانو څخه مو منحیث د یو افغان په توګه هیله او غوښتنه دا ده، چې د خبرو اترو په هر پړاو کې د امریکايي ډیپلوماسۍ او سیاست د تاریخي ژمنو او ماتونو مخینه مطالعه او په یاد ولری، هغه ډول چې دوی د تضمین په عنوان د بیا یرغل کولو پلمې لټوي، تاسو هم ور څخه د بیا یرغل، لاسوهنې او نه خیانت حق په هر عنوان او نوم چې یې قصد لری، ترلاسه کړي.

ځکه د ژمنو ماتول، د نړیوالو او بین الدولي پرېکړو سپکاوی د امریکايي (ګټو محوره) سیاست پر وړاندې نه، بلکې په همدې نږدې تاریخ کې د یوې عادي چارې او مروج ورځنې کلتور برخه ګرځېدلې دي.

د بېلګې په توګه، د امریکا وتل په وروستۍ بې شرمۍ سره، د پاریس له اقلیمي تړونه، له روسیې سره د مزایلو د کنټرول تړون ماتول، له برېټانیا سره د بریګزیټ ژمنه، له ایران سره د برجام تړون، له کوریا سره مختلفې هوکړې، د سوریه د انقلابیانو تش لاس پرېښودل او د لسګونو عربو او افریقايي مستبدو واکمنانو هغوی چې تر پرونه د امریکا ابن غلام لاسپوڅي او ګوډاګیان وو، ولې کله یې چې د ګټو غوښتنه له هغوی څخه پر نه ملاتړ ولاړه وه، له هغوی یې لاس ومینځل، نه یې د هغوی انډیوالي وریاده شوه او نه غلامي؛ بلکې پخپلو لاسونو یې، پخپلو ملتونو داسې سپک او بې عزته کړل، چې تاریخ یې ډېرې کمې بېلګې په یاد لري. قضافي، علی عبدالله صالح، صدام حسین او لسګونه داسې نور یې ښې بېلګې دي.

دا ځکه له امریکا سره معامله د بشري ارزښتونو او انسانیت بحث نه دی او نه له معنوي اړخه امریکا د تاریخ په نوم کوم ملي ننګ او ارزښت تر شا لري، چې د خیانت، وحشت او بې عدالتۍ پر مهال دوی ورته پام وکړي یا یې ور په یاد شي.

همدارنګه موږ په داسې یوه نړۍ کې اوسو، چې د هر څه معیار ځواک دی. اوس چې زموږ او امریکا ترمنځ برابري، سیالي او توازن په هېڅ ډګر کې ممکن نه دی او طالبان هم خوشبختانه له هغه پړاو څخه تېر شوي، چې د فشارونو له امله له خپل دریځ څخه تېر شي؛ بلکې هغه ملي او ولسي ذهنیت چې د جګړې خلاف او هغه سیمه ییز او نړیوال ملاتړ چې د امریکا د شتون اړوند راټوکېدلی او په تازه ګام کې د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر او د سولې په برخه کې د دغه هېواد ځانګړي استازي لیدنه په قطر کې له ملا برادر اخوند سره یوه خبره په ډاګه کوي، چې طالبان ترهګر نه؛ بلکې یو ملي او مقاومتګر افغاني خوځښت دی، چې د افغانستان په هر ډول سیاسي رهبرۍ کې به پرېکړه ټاکونکی ځای لري او امریکا هم د قطر- دوحې مذاکراتو ته په کېناستو، دغه ابهام ختم او دا واقعیت یې ومانه.

اوس طالبانو ته پکار ده چې تر دې ځایه یې ډېر څه په خوراه صبر، سرښندنو او تدبیر سره ګټلي، باید وروسته له دې هم هر ګام په پوره احتیاط سره واخلي.

د پاکستان، ایران او روسیې هر دریځ او چارې ته په حکمت سره ځواب ورکړي او تر ټولو مهم په داسې حال کې پر امریکایانو هر ډول خوش باورانه نظر له خپل ذهنه لرې کړي او له دوی څخه په یو متقابل عمل کې د بیا نه یرغل او نه لاسوهنې د مخنیوي په موخه او د ګران افغانستان د خوندیتابه لپاره ترې ښکاره حقوقي او سیاسي تضمین واخلي.

هغه داسې چې دوی او هېڅ افغان ته د یوه امریکايي عسکر پاتې کېدل په هېڅ عنوان هغه که له تروریزم سره د مبارزې په نوم وي، یا د مشورې په نوم او یا له نشه یي توکیو سره د مبارزې په پلمه د منلو وړ نه ده.

دوی ( امریکایانو ) ته باید وویل شي او دوی باید دا تضمین کړي، چې بیا له اسلام اباده د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کړي او دلته د څو ارزالو په غوښتنه ملي نظامونه او ولسي حکومتونه نه شي نسکورولای، نه په مستقیم ډول او نه د کومې کورنۍ پردیپالې ډلې په غوښتنه.

دوی باید د خوست ساتندویانو او دېته ورته نورې لسګونه هغه ډلې چې سی ای اې یې په مستقیم ډول ملاتړ او رهبري کوي او هغه هره ورځ افغان وژنه کوي، منحل اعلان کړي او ژمنه وکړي چې دلته به په هېڅ عنوان او ډول له باغي او یاغي ډلو ملاتړ نه کوي او دا ډول لاسوهنه به د یرغل معادله ګڼل کېږي.


دا ډول په بېلابېلو کورنیو چارو لکه ټاکنو، له نړۍ سره پر اړیکو او د سیاسي حکومتوالۍ د کردار په تر سره کولو کې لاسوهنه، ملاتړ او یوې ډلې په ګټه غیرې قانوني دریځ نه شي نیولای.

ځکه که له عراق، سومالیا، موګادیشو او بېلابېلو هېوادونو څخه د امریکا د وتلو ښکیلاګي تاریخ ته که کتنه وشي، نو څرګنده به شي چې د امریکا وتلو او نه وتلو هلته هغو ملتونو ته هېڅ بدل نه کړل، بلکې یا یې بېرته هلته لکه د عراق او سومالیا یرغل وکړ او یا یې تر دې کچې لاسوهنه جاري وساتله، چې له سره د اړوندو هېوادونو ملتونه پر خپلو سیاسي حکومتونو واک نه لري، بلکې واکمن رژیمونه په دغو ټولو هېوادونو کې یا د واشنګټن لخوا مستقیم اداره کېږي او یا د امریکا د پنډونو، سیاسي ملاتړونو او فشارونو په وجه، د هغه چا په واک او اختیار کې دي، کوم چې پرون د امریکا په غېږ کې راپیدا شوي او نن لوی شوي دي.

## منظور پښتین تربل هر چا د سولې نوبل جایزې مستحق ګڼل شوی

ګڼو پښتو او د بشري حقونو فعالانو د سولې نوبل جایزې لپاره د منظور پښتین د نوملو غوښتنه کړې ده.

په افغانستان، پاکستان، عربو هېوادونو، امریکا، اروپايي هېوادونو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ګڼو پښتنو او افغانانو او د بشري حقونو فعالانو په پاکستان کې د پښتنو د حقونو مدافع منظور پښتین د راتلونکې سولې نوبل جایزې مستحق ګڼلی دی.



دا په داسې حال کې ده چې منظور پښتین له ۲۰۱۴ ز کال راهیسې په پاکستان کې د پښتنو، بلوڅو او نورو محکومو قومونو د حقونو د خوندیتابه لپاره مدني مبارزه کوي او په دې برخه کې د حکومت له خوا له سختو ننګونو، بندیزونو او ګواښونو سره مخ دی.

پښتین د وزیرستان اوسېدونکی او د پښتون ژغورنې غورځنګ (پي ټي ایم) مشر دی. دغه غورځنګ وروسته له هغې رامنځته شو چې پاکستاني پولیسو د دغه هېواد په کراچۍ ښار کې د نقیب مسید په نوم یو ځوان وواژه.

## لاوروف: د افغان سولې په تړاو روانې هڅې باید همغږې شي

د قطر او روسیې د بهرنیو چارو وزیرانو د خبرو له لارې د افغان شخړې پر هوارې او د روانو هڅو پر همغږۍ ټینګار کړی دی.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف چې په یوه رسمي سفر قطر ته تللی، له خپل قطري سیال شیخ محمد بن عبدالرحمن الثاني سره له لیدنې وروسته، یوې ګډې خبري غونډې ته خبرې کړې دي.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر ویلي، چې د بین‌الافغاني مذاکراتو جوړېدو لپاره د مسکو او واشنګټن ترمنځ اړیکې ګټورې دي.

لاوروف زیاته کړې چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی، زلمی خلیلزاد د بین‌الافغاني مذاکراتو په اړه وخت نا وخت د روسیې له استازو سره هم ګوري.

هغه زیاته کړې: «د افغانستان د سولې لپاره د واشنګټن ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد زما له مرستیال ضمیر کابلوف سره وخت په وخت منظمې لیدنې او ښې اړیکې لري، خو د افغان سولې په تړاو روانې هڅې باید همغږې شي».

هغه دغه راز ویلي، روسیه، امریکا او دغه راز د افغانستان نور ګاونډي هېوادونه کولای شي په افغانستان کې د سولې د ملي مذاکراتو په پیلولو کې مرسته وکړي او دا د دغه بحران د ختمولو لپاره یوازینۍ لار ده.

بلخوا د قطر د بهرنیو چارو وزیر هم د افغانستان د سولې مذاکراتو په اړه خوښي ښودلې او د افغان سولې یوې مثبتې پایلې ته په رسولو کې یې د ټولو رول ستایلی دی.

محمد بن عبدالرحمن الثاني ویلي، چې سوله د جګړې او زور له لارې نه شي راتلای او د شخړې د حل یوازینۍ لاره خبرې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې د طالب او امریکايي استازي ترمنځ، د سولې د خبرو اترو پنځم پړاو تېره اونۍ پیل شوی او تر اوسه روان دی، خو تر اوسه دواړه لوري کومې پرېکړې ته نه دي رسېدلي.

## تر روسیې او ازبکستان وروسته؛

# د افغان سولې په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم دوحې ته ځي



په قطر کې د سولې خبرې یوې پېچلي مرحلې ته رسېدلې دي. په همدې لړ کې د روسیې او ازبکستان د بهرنیو چارو وزیرانو دوحې ته سفرونه کړي دي. د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر بیا مستقیم د قطر دفتر له مشر ملا برادر سره لیدلي دي او له هغه سره یې د سولې په برخه کې د هر ډول همکارۍ ژمنه کړې ده. څو ورځې وړاندې د قطر د بهرنیو چارو وزیر هم له ملا برادر سره لیدلي او پر افغان سوله یې بحثونه کړي دي.
ویل کېږي چې له همدې امله به د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو به هم دوحې ته لاړ شي. د راپورونو له مخې، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر تازه د افغانستان د سولې پر روانو مذاکراتو خرگندونې کړې دي. هغه (دامریکا راتلونکو کروندگرو) په نوم یوې جوړې شوې غونډې ته د خبرو پر مهال ویلي، چې د افغانستان د سولې مذاکرات پېچلي شوي دي. د ده په خبره، له طالبانو سره خبرې روانې دي، خو دمگړۍ دغه خبرې پېچلي حالت ته ننوتې دي او ډېر کار ته اړتیا لري.
مایک پامپیو د دې ترڅنگ دا هم ویلي، چې د افغانستان د سولې خبرې د پېچلتیاوو ترڅنگ، پرمختگونه هم لري. د نوموړي په خبره، دوی د پېچلتیاوو ترڅنگ شته پرمختگونو ته هیله من دي او داسې هیلې شته، چې افغان جگړه پای ته ورسول شي.
د مایک پامپیو په خبره، په افغانستان کې گاونډیانو او په دې مسئله کې ښکېل هېوادونه خپلې گټې پالي، نو ځکه یې د مذاکراتو بهیر پېچلی کړی دی. پامپیو ویلي: «د افغانستان د سولې مسئله، دخیلو هېوادونو پېچلې کړې ده. چین، هند، پاکستان یا روسیه دلته خپلې گټې لري، دوی خپلې گټې لري، نو ځکه موږ هم له پېچلتیا سره مخ شوي یو.»
مایک پامپیو بیا ویلي چې امریکایي ډیپلوماتان هڅه کوي، چې د سولې په برخه کې رامنځ ته شوي خنډونه او پېچلتیاوې له منځه یوسي. د ده په خبره، په همدې لړ کې ښایي په راتلونکو دوو اونیو کې دی خپله هم قطر ته سفر وکړي او د سولې د خبرو په اسانتیا کې له امریکایي استازو سره خبرې وکړي.
پامپیو داسې مهال قطر ته د سفر خبره کوي، چې په دې نږدې ورځو کې د ازبکستان او روسیې د بهرنیو چارو وزیرانو هم دوحې ته سفرونه کړي وو. دغو سفرونو او لیدنو کتنو په رسنیو کې تود انعکاس لرلی دی، خو ترڅنگ یې اندېښنې هم را ولاړې کړې دي.
د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرگي لاوروف ویلي وو، چې دوی د افغانستان د سولې په مسئله کې همکارۍ ته تیار دي او له امریکا سره د طالبانو روان مذاکرات څاري. د ده په خبره، امریکا باید دا جگړه د خبرو له لارې پای ته ورسوي او په دې برخه کې د سیمې د هېوادونو همکاري اړینه ده.
د شنونکو په باور، قطر ته د مهمو ډیپلوماتانو سفر په دې مانا دی، چې د سولې خبرې حساسې مرحلې ته داخلې شوې دي، خو له دې هر څه افغان حکومت ناخبره ساتل شوی دی. د سیاسي مسایلو شنونکی وحید مژده وایي، له طالبانو سره په خبرو کې ښایي ډېر پرمختگونه شوي وي، خو له دغو ټولو مسایلو افغان حکومت ناخبره ساتل شوی او تر دې دمه هر څه د تړلو دروازو تر شا روان دي.
بل پلو د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس محمدعمر داوودزي پرون په یوه غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي، چې د بهرنیو ځواکونو د حضور او وتلو په اړه طالبان او امریکا پرېکړه نه شي کولی. د ده په خبره، امریکا له افغان حکومت سره هوکړې لري او باید دغه هوکړو ته ژمنه پاتې شي. د ده په خبره، امریکا یوازې دا هڅه کوي چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د مخامخ خبرو زمینه برابره کړي او تر هغه وروسته به ټولې هوکړې له افغان حکومت سره کېږي، نه له طالبانو سره.

## داوودزي: په قطر کې د بندو دروازو تر شا روانې خبرې د اندېښنې وړ دي



د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس محمدعمر داوودزي ویلي، افغانان په قطر کې د بندو دروازو تر شا، د سولې په اړه د روانو مذاکراتو د جریان په اړه اندېښنه لري.
دا په داسې حال کې ده چې له تېرو شاوخوا نهو ورځو راهیسې په قطر د امریکا متحده ایالتونو او طالب استازو ترمنځ د سولې په تړوا پنځم پړاو خبرې روانې دي.
نوموړي تېره ورځ په کابل کې یوې غونډې ته د وینا پرمهال په قطر کې د بندو دروازو تر شا د روانو مذاکراتو په اړه د معلوماتو نشتوالی، د پوښتنې وړ بللی دی.
داوودزي زیاته کړې: «د امریکایانو او طالبانو د استازو ترمنځ مذاکرات په دوامداره توگه جریان لري. زه باور لرم چې ټول اندېښنه لري، ولې چې که له مذاکراتو څوک خبر ونه لري، د اندېښنې وړ گرځي. تاسو باور وکړئ چې زه همدا اوس اندېښنه لرم.»
نوموړي زیاته کړې چې امریکا نه شي کولای له طالبانو سره د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر مسئلې پرېکړې ته ورسېږي او په قطر کې د دواړو لورو په ناسته کې، دا خبره چې د افغانستان له خاورې څخه به نورو هېوادونو ته گواښ نه پېښېږي، ناسمه ده.
د داوودزي په خبره، نړیوال سرتېري په افغانستان کې د امنیتي همکاریو د قرارداد له مخې، چې په ۲۰۱۴ ز کال کې لاسلیک شو، حضور لري.
هغه دغه راز زیاته کړې: «اوس چې د افغانستان له دولت سره امنیتي معاهده لرئ او له افغانستان څخه د وتلو پر سر هوکړه له یوې ډلې سره کوی؟ دا څه سیاسي تعقل نه مني. په هر ځای کې چې امنیتي معاهده لری، د هغه معاهدې پر اساس وتل او پاتېدل هم د هغه معاهدې مربوط کېږي.»
که څه هم تر دې مهاله په قطر کې د سولې په اړه له روانو مذاکراتو څخه ټول جریان له رسنیو سره نه دی شریک شوی، خو طالبانو روانه اونۍ ویلي چې په دغه غونډه کې له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو پر وتلو او دا چې د افغانستان خاوره به د امریکا او نورو هېوادونو پر ضد نه کارول کېږي، خبرې شوې دي.

## نور: له طالبانو سره د سیاسیونو په راتلونکې ناسته کې حکومت هم گډون کوي



د بلخ پخواني والي او د جمعیت گوند اجرایه رییس عطامحمد نور ویلي، چې له طالبانو سره د احزابو او افغان سیاسیونو په راتلونکې ناسته کې حکومت هم برخه اخلي.
نوموړي که څه هم د یادې ناستې کره نېټه نه ده په ډاگه کړې، خو ویلي یې دي چې دغه غونډه به د مسکو کنفرانس په دوام د سولې په تړاو دویمه ناسته وي، چې د قطر په مرکز دوحه کې جوړېږي او افغان حکومت به هم پکې برخه ولري.
نوموړي دغه راز په مزارشریف ښار کې د خپلو پلویانو یوې غونډې ته په خبرو کې پر حکومت هم توندې نیوکې کړې دي.
د سولې او ټاکنو په اړه په یاده مشورتي غونډه کې نور ویلي، حکومتي مشران له دولتي امکاناتو او موقفونو څخه په استفادې، له وخته مخکې خپل کمپاینونه پر مخ بیایي.
هغه زیاته کړې چې افغانستان دمگړۍ په سختو شرایطو او ستونزو کې راگیر دی او له دغه حالت څخه د وتلو لپاره باید کار وشي.
نور ویلي چې د امنیتي چارواکو د بې کفایتۍ او د حکومت د مدیریتي ضعف له امله، هره ورځ په اوسط ډول سل افغان سرتېري خپل ژوند له لاسه ورکوي.
د بلخ پخواني والي د امنیتي ځواکونو د مرگ ژوبلې کچې د لوړېدو لوی لامل، د امنیتي چارواکو بې کفایتي او د حکومت مدیریتي ضعف بللی دی.
نور دغه راز په حکومت له دې کبله هم توندې نیوکې کړې، چې له دولتي موقف او امکاناتو څخه په استفادې، د ځان په گټه کمپاین کوي.
هغه زیاته کړې : «عجیبه ده چې د اجرایه ریاست یو معاون له څوکۍ څخه منفک کېږي؛ خو د جمهوري ریاست بل برحاله معاون، د ولسمشر ترڅنگ ولاړ وي او کمپاین کوي. د قانون له مخې یوازې ولسمشر حق لري چې د ټاکنو د ترسره کېدو او نوي جمهور رییس تر راتلو پورې پر خپل ځای پاتې شي؛ نور پر ټولو کسانو باندې باید یو شان قانون پلی شي».
هغه دغه راز زیاته کړې چې حکومت نه په کورني او نه هم په بهرني سیاست کې بریالی دی، بلکې په خبره یې چې یوازې د خلکو په سترگو کې خاورې شیندي.

## سپینه ماهی: د ټرمپ پر وړاندې د ډیموکراټانو وروستی اقدام شرموونکی دی

سپینې ماهۍ د کانگرېس په استازو جرگه کې د ډیموکراټانو هغه اقدام غندلی، چې ولسمشر ټرمپ ته نږدې له لسگونو کسانو او کمپنیو یې غوښتي، چې له روسیې سره د هغه د احتمالي اړیکو په اړه دوسیې ورسره شریکې کړي.
سپینه ماهۍ د ډیموکراټانو پر دغه اقدام ځکه په غوسه شوې چې د څېړنې اصلي محور یې پر ولسمشر ټرمپ او له روسیې سره د هغه پر احتمالي اړیکو څرخي.
د سپینې ماهۍ ویاندې سارا سنډرز په یوه انتقادي بیان کې د ډیموکراټانو دغه اقدام له صلاحیتونو ناوړه استفاده او شرموونکی اقدام بللی دی.
دا په داسې حال کې ده چې له روسیې سره د سپینې ماهۍ د اړیکو د ادعاوو په اړه د پراخې څېړنې په ترڅ کې، د کانگرېس د استازو جرگې د قضایي چارو کمېټې، ۸۱ کسانو او کمپنیو ته په استولو لیکونو کې په دې اړه د اسنادو د شریکولو غوښتنه کړې ده.
د سپینې ماهۍ ویاندې سارا سنډرز دغه هڅې د کب له نیولو سره تشبه کړې او د دې کمېټې د مشر لهخوا څېړنه یې له صلاحیتونو ناوړه استفاده او د مایوسۍ وړ او د هغو ادعاوو په اړه سترې کېدونکې هڅې بللې، چې د دې په خبره، د ځانگړي مفتش رابرټ مولر او د کانگرېس د دواړو جرگو د کمېټو لهخوا پر مخ وړل شوې دي.
سنډرز دغه راز ویلي، د قضایي کمېټې مشر ندلر او د هغه ملگري ډیموکراټان دغه بې نتیجې څېړنه ځکه کوي، چې له روسیې سره د اړیکو په اړه د تېرو دوو کلونو درواغ یې زوال ته نږدې دي.
د کانگرېس د استازو جرگې چې ډیموکراټان پکې اکثریت دي، د قضایي کمېټې مشر جرالد ندلر چې په دې اړه د څېړنې مشري کوي، ویلي چې دا د کانگرېس مسوولیت دی چې دا مسئله وڅېړي او ووایي چې ایا سپینې ماهۍ له قدرته ناوړه استفاده کړې او که نه.
په هغو ۸۱ کسانو او کمپنیو کې چې دې کمېټې لیکونه ور استولي، روسي میلیاردر ویکټور ویکسیلبرگ، گرجستانيالاصله امریکایي سوداگر ایراکلي کاویلادژې او په سنټ پټرزبورگ کې دېره یویگني پریگوژین کمپنۍ چې ویل کېږي له کرېملېن سره نږدې اړیکې لري، هم شامل دي.
دغې کمېټې ویلي چې لومړی یې له دغو کسانو او کمپنیو غوښتي چې په خپله خوښه په دې اړه اسناد او شواهد ورسره شریک کړي، خو که دوی دا کار ونه کړي، له قانوني لارې به دا کار وکړي.
کله چې له ولسمشر ټرمپ څخه په دې اړه پوښتنه وشوه، چې ایا دې ته حاضر دی، چې له دې څېړنې سره همکاري وکړي، ووېل چې له هر لوري سره یې تل همکاري کړې او کوي یې. دغه اقدام داسې مهال کېږي چې ډیموکراټانو چې له تېرې نومبر میاشتې یې د استازو جرگې کنټرول په لاس کې اخیستی، د ولسمشر ټرمپ او د هغه د ۲۰۱٦ ز کال ټاکنیز کمپاین اړوند سیاسي او حقوقي مسایلو په اړه د یولړ څېړنو بهیر لا گړندی کړی دی.
خو ولسمشر ټرمپ له مسکو سره د خپل ټاکنیز ټیم د اړیکو په اړه تورونه رد کړي او کرېملېن هم د امریکا په ټاکنو کې مداخله رد کړې ده.

## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### شپږم څپرکی
### ځان چې څه گڼې، هماغه یې




۱. جامې به تر پخوا دوه چنده ډېر دوام وکړي، ځکه کیفیت به یې تر پخوا دوه چنده لوړ وي او څومره چې ډېر دوام کوي، هومره به ډېر کیفیت ښيي.
۲. څه چې اخلئ هغه به تر ډېره فېشن وي، ښې جامې همداسې وي.
۳. پوه به شئ، ځکه کوم دوکاندار چې جامې په دوه زره خرڅوي، دوی دې ته ډېر لېواله وي چې په رخت مو پوه کړي چې دا درته ښه دی، دا کار هغه دوکانداران نه کوي چې په زر روپۍ جامې درکوي.

دا یاد ساتئ: ستاسې ظاهر تاسې او نورو سره غږېږي. هڅه وکړئ چې تاسې تل درون او مهم شخص معرفي کړي. تاسې د نورو پر وړاندې او بلکې مهمه دا چې د ځان پر وړاندې دا مسئولیت لرئ چې ښایسته او منظم ښکاره شئ.

تاسې چې ځان څه گڼئ، هماغه یئ. که ستاسې ظاهر دا فکر درکوي چې تاسې حقیر یئ، نو تاسې حقیر یئ. که مو کوچنی کوي، نو کوچني یئ. ځان تر ټولو ښه ښکاره کړئ، همداسې ښه فکر او عمل به هم وکړئ.

خپل کار مهم وگڼئ

د دریو مزدورانو کیسه به مو اورېدلې وي، چې د خپل کار په اړه یې بېلابېل ذهنیتونه لرل. دا کیسه زړه ده، خو بیا به یې وکړو:

داسې وه چې دریو مزدورانو د یوې ودانۍ په بنسټونو (تهدابونو) کې کار کاوه، پوښتنه ترې وشوه چې څه کوئ:

یوه وویل: (تیږې ماتوم)

دویم وویل: (د ورځې په درې سوه روپۍ مزدوري کوم)

درېیم وویل: (د نړۍ تر ټولو لویه ودانې ابادوم)

له دې وروسته کیسه نه ده معلومه چې په دې خلکو څه وشول، خو زه فکر کوم چې لومړي دوه تنه به همداسې تیږې ماتوونکي پاتې شوي وي، ځکه د دوی نظر دومره پراخه نه و. د خپل کار درناوی یې نه کاوه او داسې هېڅ څه ورسره نه وو، چې دوی د یوه لوی بري خوا ته بوځي.

خو تاسې په دې ان شرط تړلای شئ، کوم مزدور چې ځان د لویې ودانۍ جوړوونکی باله، هغه مزدور نه دی پاتې شوی. ده به په خپل کار کې پرمختگ کړی وي، ښایي اجاره دار شوی به وي، د مزدورانو مشر شوی به وي یا به ختځگر شوی وي، خو له خپل ځایه به خوځېدلای وي، ولې؟ ځکه فکر یې همدا ایجابوي. درېیم مزدور لوی فکر لري، ځان په یوې ځانگړې فکري لیکې کې عیاروي او دا لیکه یې په کار کې د ځان جوړونې خوا ته وړي.

د کار په اړه د شخص فکر دا ښيي چې څنگه انسان دی او د لویو مسئولیتونو اخیستو لپاره څومره بالقوه انرژي لري. زما یو ملگری د گومارنې یوه اداره لري، ماته یې وویل: (د کارکوونکو د ارزونې پر وخت یو دې ټکي ته گورو، چې دا کس د خپل اوسني کار په اړه څه فکر کوي. که موږ پوه شو چې له ټولو ستونزو سره بیا هم دا کس د خپل کار په اړه ښه نظر لري، نو په اړه یې زموږ مثبت نظر زیاتېږي.

دلیل یې دا دی چې: که یو کس خپل اوسني کار ته ارزښت ورکوي، نو ښایي راتلونکي کار ته هم همداسې ارزښت ورکړي. د خلکو د اجراأتو (فعالیت) او کار ته د درناوي ترمنځ اړیکه مو پیدا کړې او دا اړیکه ډېره نږدې ده.)

تاسې چې د کار په اړه څه ډول فکر لرئ، دا عیناً لکه ستاسې ظاهر ستاسو مدیرانو، همکارانو، تر لاس لاندې کسانو او له هر چا سره چې اړیکه لرئ، هغوی ته ستاسې په اړه ډېر څه ښیي.

څو ورځې مخکې مې له یوه ملگري سره خبرې کولې، دا ملگری مې د وسایلو د تولید په یوه فابریکه کې د گومارنې مسئول دی. موږ پر (انسان جوړونې) غږېږدو. هغه راته (د پرسونل ارزونې سیستم) او خپلو لاس ته راوړنو په اړه غږېده، ویل یې:

(موږ اته سوه اداري کارکوونکي لرو. زموږ د ارزونې په پروگرام کې چې هر کارکوونکی راځي، زه او معاون مې باید په شپږو میاشتو کې یوه مرکه ورسره وکړو. په دې کې کوم خاص هدف نشته، یوازې ځان په دې پوهول غواړو چې کار کولو کې ورسره څه مرسته کولای شو. موږ پر دې باور یو چې مثبت کار کوو. ځکه ټول کارکوونکي موږ ته مهم دي، گڼي معاش به مو نه ورکولای.

موږ پام کوو چې پوښتنې مستیقماً مطرح نه کړو، د دې پر ځای یې هڅوو چې څه یې زړه غواړي، پر هغې وغږېږي. موږ دا غواړو چې د ده په زړه او ذهن پوه شو. ربښتیا ترې واورو. له هرې مرکې وروسته د کارکوونکي د کار د خاصو اړخونو په اړه، د ده د لېوالتیاوو یوه فورمه ډکوو.

ښه اوس دا وگوره چې ما څه زده کړل. زموږ کارکوونکي پر دې اساس چې د کار په اړه څه فکر کوي، په دوو (الف او ب) کټگوریو کې راځي. د (ب) کټگورۍ کارکوونکي عموماً پر ټولنیز تأمین، تقاعد، روغتیایي رخصتیو، د رخصتیو زیاتېدو، د بیمې د پرمختگ او دېته ورته مسائلو غږېږي چې سږ کال د تېر کال په څېر اضافه کاري وکړي که نه. د دې تر څنگ د کار د نارضایتۍ په اړخونو غږېږي او له خپلو همکارانو زړه خوري. زموږ د اداري کارکوونکو نږدې اتیا سلنه په همدې (ب) کټگورۍ کې راځي. دوی خپل کار ته د یوه تحمیلي مصیبت په سترگه گوري.


**دوام لري...**

# ټول خلک سره ورونه دي

(ټول خلک سره ورونه دي) کتاب تازه پښتو ته ژباړل شوی دی، کتاب په نړۍ کې د ازادۍ اخیستو لپاره د مشهور او پېژندل شوي مبارز، مهاتما گاندي اثر دی. پښتو ژباړه یې امان الله حنیفي او مجنون رحیمزي کړې ده. د کتاب پښتو ښه ۲٦٦ مخونه لري.

گاندي خپل ټول عمر له انگرېزانو څخه د هندوستان د ازادۍ لپاره په مبارزه کې تېر کړ او د(عدم تشدد) د فکر پر بنسټ یې، نړیوالو ته وښوده، چې ازادي نه یوازې د ټوپک په زور، بلکې د ټینگ عظم، د خلکو د راویښولو او سوله ییز مقاومت پرمټ هم ترلاسه کېدای شي. مهاتما گاندي د هندوستان د ازادۍ لپاره خلک سرکونو ته را وایستل، لاریونونه یې وکړل او انگرېز حکمرانانو ته یې د هندوستان د خلکو غږ ورساوه، چې هندوستانیان ازادي غواړي . نوموړی زنداني شو، ووهل شو، وشړل شو، خو هېڅکله هم له خپل هوډ او لارې څخه، چې ازادي وه، وانه وښت. اخیر انگرېزان هم د گاندي او هغه د ملگرو پر وړاندې ماتې ومنله او هند ته یې ازادي ورکړه، خو له بده بخته چې انگرېزانو د هند د ازادۍ ترڅنگ، هغه تجزیه هم کړ . دغه کتاب هم تر ډېره د گاندي پر مبارزه او د ژوند د بېلابېلو اړخونو په اړه، د نوموړي پر تجربو ولاړ دی. کتاب خپله گاندي لیکلی او د لیکلو هدف یې، نورو ته د خپلو تجربو رسول دي. گاندي وایي: «هدف مې دا نه دی چې د ځان ربښتینی حال ولیکم، غواړم د حقیقت په اړه د خپلو بې شمېره ازمایښتونو داستان په ډېر ساده شکل نقل کړم...» د گاندي د دې پیاوړې مبارزې او د ازادۍ لپاره نه سترې کېدونکو هلوځلو په مقابل کې، خلکو نوموړي ته د (گاندي) لقب ورکړ، چې اصل مانا یې (پیاوړې روح) ده.

دغه لقب اصل کې د هندوستان وتلي لیکوال (رابیتات ټاېگور) ورکړ. نوموړی په هندوستان کې د(باپو) یا لوی پلار په نامه هم یادېږي. گاندي ته د ټولې نړۍ په ځانگړې توگه د هندوستان وگړي هندوان، مسلمانان ، سکهان، عیسویان او نور ډېر احترام لري، هغه ځکه چې نوموړي هېڅکله د چا پلوي یا مخالفت ونه کړ او په هند کې یې شته قومونه او مذهبونه د یو بل ورونه بلل؛ ځکه خو گاندي د دغه کتاب نوم هم (ټول خلک سره ورونه دي) کېښود. گاندي به خپلو پلویانو ته ویل، چې زموږ مبارزه روښانه او دعدم تشدد لاره ده. نوموړي به خپل هېوادوال له تاوتریخوالي څخه منعه کول او ډاډ یې ورکاوه، چې دوی به ضرور یوه ورځ ازادېږي. د نوموړي دعدم تشدد فکر او مبارزې نورې نړۍ ته لاره ورکړه او دنړۍ د بېلابېلو هېوادونو ځینو مشرانو د گاندي لاره خپله کړه، چې په دې ډله کې، مارتین لوترکینگ، تنزین گیاتسو، لخ والسا، استفان بیکو، انگ سانسوچې او نیلسون منډېلا یادولی شو، خو په یادو کسانو که ټولو دگاندي مفکوره پلې نه شوای کړای او کله ناکله به یې تاوتریخوالي ته هم لاس اچاوه، خو گاندي د عمر تر پایه پر همدغه فکر ټینگ پاتې او هېڅکله یې د زور او تاوتریخوالي له لارې مبارزې ته ادامه ونه کړه. گاندي په ۳٦ کلنۍ کې د(برهماي) دفلسفی پر اساس،




جنسي اړیکې له خپلې مېرمنې سره پرې کړې. نوموړي په دغه کار سره د باطني تذکیې هڅه کوله. گاندي ویل، هر هغه څوک چې ټولنې ته چوپړ کوي یا د چوپړ کولو نیت لري، نو باید چې ډېر ساده ژوند ولري، دعامو کسانو په څېر ځان وښیي، څو د خلکو اعتماد پرې وشي. نوموړی په خپله هم د همدغه اصل سخت پابند و، ده به خپل کالي خپله مینځل، نور ډېر کارونه یې هم خپله کول، ان نوموړي ټول عمر هغه کالي اغوستل چې د هند غریب ترینه کسانو به اغوستل ، گاندي خپلې اغوستې جامې له هغو رختونو څخه جوړولې، چې خپله یې د څرخ په واسطه جوړولې او نورو ته یې هم لارښوونه کوله، چې همدا کار وکړي. دهندوستان په ډیلي ښار کې دگاندي په نامه یو ځانگړی موزیم شته، چې د هغه د ژوند ټول حالات پکې انځورشوي او همدا راز د هند خلک دگاندي د زیږېدنې پر ورځ چې د اکتوبر دویمه ده، رسمي رخصتي کوي .

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت ترلاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Key Words for Fluency pre-intermediate | George woolar | ۱۲۰ؤ |
| ۲ | Key Words For Fluency Intermediate | | ۱۵۰ؤ |
| ۳ | Key Words For Fluency Inter | | ۱٤۰ؤ |
| ٤ | Reading and Vocabulary Development Facts & Figures | Patricia Ackert linda lee | ۱۵۰ؤ |
| ۵ | Reading and Vocabulary Development Thoughts & Notions 2 | | ۱٤ؤ |
| ٦ | Reading and Vocabulary Development Cause & Effect 3 | | ۱٤۰ؤ |
| ۷ | Reading and Vocabulary Development Concepts & Comments 4 | | ۱۵۰ؤ |
| ۸ | select reading elementary | Linda lee | ۱۲۰ؤ |
| ۹ | Select Readings Intermediate | | ۱۲۰ؤ |
| ۱۰ | Select Readings Pre intermediate | | ۱۲۰ؤ |
| ۱۱ | Select Readings Upper intermediate | | ۱۲۰ؤ |
| ۱۲ | Essential 4000 English Words 1+CD | paul nation | ۱۳۰ؤ |
| ۱۳ | Essential 4000 English Words 2+CD | | ۱۳۰ؤ |
| ۱٤ | Essential 4000 English Words 3+CD | | ۱۳۰ؤ |
| ۱۵ | Essential 4000 English Words 4+CD | | ۱۳۰ؤ |
| ۱٦ | Essential 4000 English Words 5+CD | | ۱۳۰ؤ |
| ۱۷ | Essential 4000 English Words6+CD | | ۱۳۰ؤ |
| ۱۸ | English Vocabulary in use elementary 3rd edition | Michael Mccarthy | ۱۰۰ؤ |
| ۱۹ | ENGLISH VOCABULARY IN USE PRE-INTERMEDIATE AND INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰ؤ |
| ۲۰ | ENGLISH VOCABULARY IN USE UPPER INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰ؤ |
| ۲۱ | ENGLISH VOCABULARY IN USE ADVANCED 3rd | | ۱۸۰ؤ |
| ۲۲ | Vocabulary and Grammar for The TOEFL Test | Collins | ۱٤۰ؤ |
| ۲۳ | Skills for the Toefl iBT test Listening and Speaking | | ۱٤۰ؤ |
| ۲٤ | Skills For the Toefl iBT test Reading and Writing | | ۱٤۰ؤ |
| ۲۵ | د شاتو مچیو روزنه | خوشدل معروف | ۱۰۰ؤ |
| ۲٦ | زنبور درمانی | سید محمد ظاهر سیدی | ۲٤۰ؤ |
| ۲۷ | د ښوون زیتون پروسس | سید رقیب شاه هاشمی | ۱۲۰ؤ |
| ۲۸ | عمومی زراعت کرنپوهنه | محمد اجمل د عوتیار غفاری | ۱۷۰ؤ |
| ۲۹ | د اسوېلو کاروان (شعري ټولگه) | روزی مبارزی محمد ملنگ | ۱۰۰ؤ |
| ۳۰ | کانډي ټول خلک سره ورونه دي | امان الله حنفي ، مجنون رحیمزی | ۲۰۰ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ      اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# دغه اووه کړنې د دې لامل کېږي چې نور خلک درته احترام وکړي

ژباړه: جواد تیموري

نږدې ټول انسانان، که په هر عمر کې دي، دا خوښوي چې په ټولنیز ژوند کې ورته احترام او درناوی وشي او په ټولنه کې د ځان لپاره ځانګړی ځایګوټی ولري. د بېلګې په توګه، کله چې تاسو ته کوم مسوولیت سپارل کېږي او یا هم کوم مقام او منصب ته رسېږی، نو لومړی غوښتنه مو دا ده، څو هغه کسان چې ستاسو تر لاس لاندې ژوند کوي، درته احترام ولري، خو دغه احترام او درناوی په خپله نه رامنځته کېږي، بلکې د ترلاسه کولو لپاره یې لازمه ده چې له نورو سره ښه چلند وکړو، څو هغوی هم موږ ته درناوی وکړي.

ممکن کاري ټیم مو یوازې ځینو عادتونو، پوهې، ځیرکی او یا وړتیا ته احترام ولري، خو اساسي خبره دا نه ده، بلکې ډېر نور شیان هم شته چې کېدای شي له کبله یې تاسو د خلکو له لوري د احترام وړ وګرځی.

په ټوله کې، که مو په کاري او ټولنیز چاپېریال کې د نورو احترام او درناوی ترلاسه کړ، په دې پوه شی چې دغه وخت بریالي یی. په دې لیکنه کې هغه لارې چارې درته ښیو چې په پلي کولو سره به یې له شک پرته د نورو له لوري د احترام وړ وګرځی:

**۱- مهربان اوسئ**

تل له ټولو هغو کسانو سره چې د ورځې په اوږدو کې ورسره مخ کېږی، که هغه مو مېرمن، بچیان، ملګري، همکاران او یا هم کارکوونکي وي، په ډېرې مهربانۍ او ادب سره ورسره چلن وکړئ. که غواړئ چې په رښتینې توګه د نورو له لوري د احترام وړ وګرځئ، نو مهربانه و اوسئ، که څه هم دغه څه درته په لوړه بیه تمام شي.

نورو ته هم په هماغه ډول احترام وکړئ، څرنګه یې چې د ځان لپاره غوښتونکي یی. په کاري چاپېریال کې مو هڅه وکړئ، کوم چې ټولنیز نزاکتونه په پام کې نیسي. د بېلګې په توګه، که تاسې په یوه مجلس کې ناست یی او په دغه وخت کې مو دغه مجلس ته یو بل همکار راځي، هڅه وکړئ چې د روغبړ لپاره ورته په خپل ځای کې ودرېږئ او حتا د دې غوښتنه ترې وکړئ چې ستاسو پر څوکۍ یا ځای کېني. که څه هم هغه به حتماً ستاسو پر ځای د کېناستلو هڅه ونه کړي، خو دغه څه د دې لامل کېږي چې زړه یې ترلاسه کړی او د درناوي وړ یې وګرځئ. په کاري او ټولنیز چاپېریال کې مو خندا له یاده ونه باسئ او د (مننه کوم) ( هیله کوم) کلمې ډېرې وکاروئ.



**۲- له نورو سره له درناوي ډک چلن وکړئ**

په ټولنیز ژوند کې مو له هغو کارونو ډډه وکړئ، چې د ټولنې د اصولو او نورمونو خلاف دي، یا په ټولنه کې ورته په بده سترګه کتل کېږي. د بېلګې په توګه، د نورو خبرو ته غوږ نه نیول، د خبرو په وخت اخوا دېخوا کتل، له ټیلیفون څخه ډېره استفاده کول او داسې نور. دغه راز د دې هڅه مه کوی چې ډېرې خبرې وکړئ، بلکې ښه اورېدونکي شی، نورو ته د دې وخت ورکړئ چې خبرې درته وکړي، د زړه خواله درسره وکړي او تاسو یې هم په ښه غور سره واورئ؛ ځکه هرڅوک د دې حق لري چې خبرې یې واورېدل شي، حتی تر دې چې که تاسو یې له فکر او خبرو سره هم موافق ن وی. دغه څه هغه وخت په ښه توګه درک کولای شی چې ځان مو د مخاطب پر ځای تصور کړی، فکر وکړئ چې څومره به لېواله وی چې نور خلک مو خبرې واوري.

**۳- ښه غوږ نیوونکي شئ**

غوږ نیول په دې مانا دي چې تاسو مو زاړه او له کاره لوېدلي افکار او باورونه له ذهنه غورځوی او دېته لېواله یاست، چې په ژوند کې مو نوي څه او تر پخوانیو هغو ښه څه زیات کړی. کله چې تاسو خبرې کوی، ښایي داسې څه ته اشاره وکړی چې اورېدونکی مو یې هم په خپل ژوند کې ورته تجربه ولري. د دې پر ځای چې په خبرو پیل وکړی، ښه دا ده چې د څو پوښتنو په مطرح کولو سره مو اورېدونکی/ اورېدونکي دېته وهڅوی چې د خپلو شخصي تجربو په اړه درته یو څه ووایي. کله چې تاسو دغه څه ترسره کوی، مقابل لوری مو داسې فکر کوي چې درته ارزښتمن دي.

**۴- ګټور واوسئ**

هغه کسان چې هر وخت دې ته تیار دي چې له نورو سره مرسته وکړي یا په مناسبو ځایونو او وختونو کې د نورو خبرو ته غوږ نیسي او یا هم د دې په لټه کې وي، چې له نورو سره مرسته وکړي، د نورو له لوري د زیات احترام وړ ګرځي. له نورو سره د مرستې په لټه کې شی، خپل مسوولیت وپېژنئ، تر هغه وخته مه انتظارېږئ چې نور خلک درنه د مرستې غوښتنه وکړي؛ که یو څوک وینی چې مرستې ته اړتیا لري، له ځنډ پرته یې لاسنیوی وکړئ.

**۵- بهانې مه لټوئ**

له ځینو مواردو پرته، ستاسو د ژوند ټولې چارې ستاسو له غوښتنو او ټاکنو سره سمې مخ ته ځي، نو له همدې کبله د دې فرصت کم دی چې د ماتو او ناکامیو لپاره مو بهانې ولټوی. دلته څو هغو بېلګو ته اشاره کوم، چې ډېری وخت یې د پاتې راتلو په صورت کې ورته توجیهات جوړوو او بهانې لټوو: د بېلګې په ډول، که تاسو خپلې دندې، پوهنتون او یا هم ښوونځي ته په خپل وخت نه ځی، ښایي د دغه کار لپاره بېلابېلې بهانې ولټوی، توجیهات ورته جوړ کړی، خو په دغو شیانو تاسو هېڅ هم نه شی کولای، بلکې ستونزې مو نورې هم پېچلې او لویوی، په دغه ځای کې ستاسو اساسي او یوازینۍ ستونزه دا ده چې خپل وخت مو نه شی مدیریت کولای، نو له همدې کبله له نورو توجیهاتو او بهانو لټولو ډډه وکړئ او د خپلې اساسي ستونزې د حل په لټه کې شی(وخت مو مدیریت کړئ).

بله بېلګه دا ده چې که مو کار په خپل وخت او ځای سرته نه رسوی، نو اساسي ستونزه مو دا ده چې پر دغه کار مو تمرکز نه کوی او یا په یو ډول درته لومړیتوب نه لري. خپلې خطاوې مو ومنئ او د دې په لټه کې شی چې په راتلونکي کې یې له تکرار څخه مخنیوی وکړی.

**٦- غوسه مو مدیریت کړئ**

غوسه او ناراحتي له تاسو پرته هېچاته زیان نه رسوي. غوسه یو احساس دی، موږ نه شو کولای چې د غوسې له رامنځته کېدو مخنیوی وکړو، بلکې کولای شو چې مدیریت یې کړو. په دې پوه شی چې ډېری غوسې د دې له کبله وي، چې خپل کار ته مو منظم پلان او وخت په نظر کې نه وي نیولی او غیر منظم کار د غوسې د رامنځته کېدو سبب شوی وي. نو که غواړی چې ذهني فشارونه او غوسې مو مدیریت کړی، یوازینۍ لاره یې دا ده چې منظم کاري چوکاټ او پروګرام ولری او خپل کار ته له ټاکلي وخت څخه له ۱۰ تر ۱۵ دقیقو مخکې ولاړ شی، فکر وکړی او وروسته په ارامۍ سره خپل کار پیل کړی.

**۷- د بدلون هڅه وکړئ**

په یوه ځای کې پاتې کېدل تاسو هېڅ ځای ته نه شي رسولای، نو له همدې کبله دا ومنئ چې بدلون په ژوند کې د پرمختګ لپاره اساسي او اړین شرط دی. دغه راز د فردي ودې او پرمختګ لپاره مو پر وړتیاوو کار وکړی. د بېلګې په توګه، د نویو مهارتونو د زدکولو هڅه وکړئ، نوي کارونه مو په ژوند کې تجربه کړئ او د دغو مهارتونو او وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره لاس پکار شئ.

# اجرایه ریاست: امریکا یوازې له افغان حکومت سره د موافقې په صورت کې د ځواکونو د ایستلو پرېکړه کولای شي

اجرایه ریاست ویلي، امریکا کولای شي له افغان حکومت سره د موافقې په صورت کې په دغه هېواد کې د خپلو ځواکونو د ایستلو او یا هم پاتې کېدلو په اړه تصمیم ونیسي.

که څه هم اجرایه ریاست د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن د وروستیو خبرو په اړه په مشخص ډول نظر نه دی څرګند کړی، خو وایي چې امریکا له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو صلاحیت لري او که وغواړي چې په دغه هېواد کې یې یوشمېر عسکر پاتې شي، نو له افغان حکومت سره تر موافقې وروسته، دا کار هم کېدای شي.

د اجرایه ریاست مرستیال ویاند فریدون خوځون ازادي راډیو ته ویلي: «طالبانو په وار وار کومې ژمنې چې کړې، په عمل کې یې نه دي ثابتې کړې چې دوی واقعاً د سولې لپاره پیاوړې اراده لري. امریکا حق لري چې د خپلو ځواکونو د پاتې کېدو یا ایستلو په اړه له افغان حکومت سره خبرې وکړي او یوې موافقې ته ورسېږي.»



خوځون ویلي چې طالبانو لا هم د سولې خبرو ته ژمنتیا په عمل کې نه ده ثابته کړې، ځکه د نومړي په خبره، که دغه ډله په رښتیا هم سولې ته ژمنه وي، نو له افغان حکومت سره دې مخامخ خبرو ته حاضره شي.

دا په داسې حال کې ده چې تازه د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن له CNN ټلوېزیوني شبکې سره په مرکه کې ویلي، چې پر طالبانو باور نه لري او که له دې ډلې سره سوله کېږي هم، باید یوشمېر امریکایي سرتېري په افغانستان کې حضور ولري، څو دغه هېواد یو ځل بیا د وسلهوالو ترهګرو پر خوندي ځای بدل نه شي.

نومړي ویلي چې له ترهګرۍ سره مبارزه د امریکا په لومړیتوبونو کې ده او سپینه ماڼۍ به هېڅکله پر طالبانو په پټو سترګو باور ونه کړي.

که څه هم طالبانو د نومړي د خبرو په اړه څه نه دي ویلي، خو د مسکو د غونډې په څنډه کې د دې ډلې د مرکچې پلاوي مشر، شیرمحمد عباس ستانکزي رسنیو ته ویلي وو، چې د ټولې پروسې د تضمین لپاره باید ملګري ملتونه، اسلامي کنفرانس او نور با رسوخه اړخونه دخیل وي.

اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ٧٤,٨٥ |
| € | ٨٤,٨٠ |
| Rp. | ٥٣٦ |
| ₹ | ١٠٥٥ |
| ¥ | ١٠,٩٠ |
| £ | ٩٧,٨٠ |

**پروازونه**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - دوبی | 21:05 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

**بیړنۍ شمېرې**

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA
المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د مارچ شپږمه | دویم کال | ۳٤٦مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۲ | ۱۸ | ۱۵ | ۲۱ | ۱٦ |
| -٤ | ۲ | ٤ | ۷ | ۸ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٥٤ | لمر ختل ۰٦:۱۸ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیگر ۰۳:۲۳ | ماښام ۰٥:٥۳ | ماخوستن ۰۷:۱۷


## نړۍ



# سپینه مانې: د ټرمپ پر وړاندې د ډیموکراتانو وروستی اقدام شرموونکی دی

۳

## پوتین د اټومي وسلو د کنټرول له تړونه، د روسیې د وتلو فرمان لاسلیک کړی دی



د روسیې ولسمشر پوتین رسماً د اټومي وسلو د کنټرول له تړون څخه د روسیې د گډون د ځنډولو فرمان لاسلیک کړی دی.

د هغه فرمان له مخې چې د کریملین پر انټرنېټي پاڼه خپور شوی، ولسمشر پوتین حکم کړی چې له دغه تړون سره به مشارکت تر هغو وځنډوي، څو واشنگټن د دغه تړون له سرغړونې لاس واخلي.

دا په داسې حال کې ده چې دغه تړون د منځني واټن ویشتونکو اټومي وسلو د کنټرول لپاره په ۱۹۷۸ ز کال کې، د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ لاسلیک شوی و.

د روسیې ولسمشر دغه راز د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ته سپارښتنه کړې، چې د دغه تړون گډونوالو ته د دغه اقدام په اړه خبر ورکړي.

روسیه دغه اقدام داسې مهال کوي چې روسیه او امریکا دواړه یو بل د دغه تړون په نقضولو تورنوي او دواړه د یو بل تورونه ردوي.

د روسیې له دغه اعلانه وړاندې، امریکا له تړون څخه د وتلو شپږ میاشتنی بهیر پیل کړ.


بلخوا د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرگ د روسیې له نوي اعلان وروسته، چې له یاد تړون سره یې د مشارکت د ځنډولو په اړه کړی، ویلي چې روسیه باید دغه تړون ته بېرته راوگرځي.

سټولټنبرگ دغه تړون د اروپا د امنیت لپاره ډېر مهم گڼي.

IMFیا د اټومي وسلو د کنټرول لپاره په خپل ډول کې لومړنی هغه تړون دی، چې امریکا او روسیه یې د هغو کروز یا بالیسټیک توغندیو د تولید، پراخولو او خوریدو څخه منعه کړي، چې له ۵۰۰ تر ۵۵۰۰ کیلومترو واټن ویشتلی شي.

واشنگټن او ناټو، مسکو تورنوي چې د «۹M۷۲۹» ډوله توغندي په تولید سره یې دغه تړون مات کړی دی.

## هالنډ له ایرانه خپل سفیر بېرته خپل هېواد ته ورغوښتی دی



د هالنډ د بهرنیو چارو وزیر ویلي، له ایران سره تر وروستیو شخړو وروسته یې، د ایران لپاره د خپل هېواد سفیر بېرته خپل هېواد ته ورغوښتی دی.


دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې تهران د هالنډ د سفارت دوه تنه ډیپلوماټان له ایرانه وایستل.

د هالنډ د بهرنیو چارو وزیر سټیف بلاک د خپل هېواد پارلمان ته ویلي، چې تېره میاشت یې په هاگ کې د ایران سفیر ته ویلي وو، چې د ډیپلوماټانو ایستل ورته د منلو نه دي او دغه کار د دواړو هېوادونو پر اړیکو منفي اغېز کوي.

د ایران او هالنډ ترمنځ دغه کړکېچ وروسته له هغې زیات شو، چې د هالنډ حکومت تېر کال دوه ایراني وگړي په دغه تور له خپلې خاورې ایستلي وو، چې گواکې ایران په هالنډ کې د دوو ایراني‌الاصله هالنډیانو په وژنه کې لاس لري، خو ایران بیا دغه تور رد کړ.

د ایران او هالنډ ترمنځ دغه کړکېچن حالت په داسې وخت کې رامنځته شوی، چې په دې وروستیو کې د ایران او امریکا ترمنځ اړیکې هم د بل هر وخت په پرتله ترینگلې شوې دي. دغه اړیکې هغه وخت ترینگلې شوې، کله چې د ولسمشر ټرمپ اداره له ایران سره له شوي نړیوال اټومي تړون څخه ووتله.

## منبع: شورای ملی با نماینده‌های جدید به کار آغاز خواهد کرد



یک منبع حکومتی گفته است که شورای ملی امروز افتتاح نمی‌شود.

هرچند به اساس قانون اساسی افغانستان امروز ۱۵ حوت تعطیلات زمستانی شورای ملی به پایان رسید و باید این شورا به کار آغاز کند، اما این منبع معتبر حکومتی می‌گوید که شورا پس از اعلام نتایج نهایی انتخابات ولسی جرگه افتتاح خواهد شد.

این منبع که از افشای نامش خودداری کرد، روز سه‌شنبه به رادیو آزادی گفته است، شورای ملی با نماینده‌های جدید به کار آغاز خواهد کرد.

این در حالیست که هنوز نتایج نهایی انتخابات ولسی جرگه ۱۵ ولایت اعلام نشده‌است.

میرزا محمد حق‌پرست معاون سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات می‌گوید که اعلام نتایج انتخابات چند روز را در بر خواهد گرفت. وی گفت: «با آمدن کمیشنران جدید نتایج هر چقدر که زود ممکن باشد، اعلام خواهد شد و پس از آن زمانی که نتایج تمامی ولایات اعلام شد، پارلمان جدید افتتاح می‌شود».

اعضای جدید این کمیسیون‌ها پس از برکناری اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی و توشیح قانون جدید انتخابات از سوی رئیس جمهور معرفی شدند.

کمیشنران جدید کمیسیون‌های انتخاباتی روز دوشنبه رسماً به کار آغاز نموده و رئیس جمهور در مراسم تحلیف آنان گفت که هرچه زودتر باید در مورد نتایج نهایی انتخابات ولسی جرگه تصمیم بگیرند.


اما نهادهای ناظر انتخابات تأکید می‌کنند که کمیشنران جدید در اعلان نتایج حوزه‌های باقی مانده باید شفافیت را در نظر بگیرند و عدالت را قربانی سرعت نکنند.

در عین حال برخی از نماینده‌های برحال مردم در ولسی جرگه می‌گویند که تاکنون نتایج نهایی انتخابات مشخص نشده و وکلای جدید معرفی نشده‌اند، بناءً باید نماینده‌گان قبلی به کار شان ادامه بدهند.

آنان می‌گویند که تا روی کار نیامدن وکلای جدید ادامهٔ کار آن‌ها مشروعیت دارد و باید سال جدید تقنینی شورای ملی با اعضای سابقه گشایش یابد.


## ژونـــد

## په iOS کې ایراني اپلیکېشنونه بند شوي دي




څه موده وړاندې اپل شرکت اعلان کړی و، چې له دې وروسته به له اپل سټور څخه ډېرى اپلیکېشنونه لرې کړي او خلک به یې د کارولو اجازه نه لري. اوس تازه دغه شرکت ډېرى ایراني اپلیکېشنونه له منځه وړي دي، چې له دې ډلې څینې مشهور یې سنپ، فون في، سبب اپ او داسې نور دي. د اپل له دې پرېکړې وروسته هغه کسان ډېر سرگردانه او له ستونزو سره مخ دي، چې دغه اپلیکېشنونه یې کاروي. د دغو اپلیکېشنونو ډېرى یې په ایران کې مشهورو شرکتونو کارول، چې ډېرى کاروونکو یې له دغو شرکتونو سره د همدغو اپلیکېشنونو له لارې په اړیکه کې وو، چې اوس یې دغه اړیکه پرې شوې ده. ډېرى کسان په دې اند دي، چې گواکې د اپل دغه پرېکړه به پر ایران د امریکا له لوري له بندیزونو سره کومه اړیکه لري. خو اپل شرکت وایي، دغه کار یې د چا په خوښه او فرمایش نه دی کړی. دغه شرکت وایي، هڅه یې دا ده چې د خپلو توکو امنیت خوندي کړي او د هغو اپلیکېشنونو د نصب او کارولو مخنیوی وکړي، چې له مخې یې په یو ډول نه یو ډول د دغه شرکت او نورو اپل توکو کاروونکو ته زیان رسوي.

## دغه څه د زړه د ناروغیو نښې دي



**۱- ساه لنډي**

په ښځو کې ساه لنډي د زړه د ناروغۍ نښه ده. ځینې وخت ساه لنډي په تنفسي سیسټم کې د ستونزې له کبله وي، چې د حل لپاره یې باید ورزش وشي او که د هوا د یخوالي له کبله وي، باید د الرژۍ ټابلېټ وخوړل شي، خو که داسې نه وي، بیا د زړه د ناروغۍ نښه کېدای شي.

**۲- د سینې په قفس کې د دروندوالي احساس**

د سینې په قفس کې دروندوالی، چې د انژین په نوم هم یادېږي او ورسره ساه لنډي، د زړه د ناروغۍ اصلي نښې بلل کېږي. که له دې ډول پېښې سره مخ شوی او ښه پوه وی چې لامل یې بل څه نه شي کېدای، نو ژر تر ژره ډاکټر ته مراجعه وکړئ.

**۳- د زړه ټکان**

ایا تر اوسه مو زړه لړزه او یا هم ټکان کړی؟ که یې ناڅاپه ټکان کړی وي مانا یې دا ده چې یا وېربدلي یې او یا مو هم زړه په ضربان کې له ستونزې سره مخ شوی دی. دغه څه په ډېرې اسانۍ سره حس کېدای شي. ډاکټر سوزان شتاینباوم وایي، ډېرى مراجعین یې وایي، له خوب وروسته له دغه ډول پېښې سره مخ کېږي او ډېر دوام هم نه کوي. دغه پېښې د کافین د زیاتو کارولو، په بدن کې د اوبو د کمښت او یا هم سټرېس له کبله وي.